CEPI PAKISTAN
COMPETITIVE EXAMS PREPARATORY INSTITUTE

FEDERAL PUBLIC SERVICE COMMISSION
COMPETITIVE EXAMINATION-2026 FOR RECRUITMENT TO
POSTS IN BS-17 UNDER THE FEDERAL GOVERNMENT

Roll Number

PASHTO

TIME ALLOWED: THREE HOURS	**(PART-I MCQs) MAXIMUM MARKS: 20**
PART-I (MCQs) : MAXIMUM 30 MINUTES	**(PART-II) MAXIMUM MARKS: 80**

NOTE: (i) First attempt **PART-I (MCQs)** on separate **OMR Answer Sheet** which shall be taken back after **30 minutes.**
(ii) Overwriting/cutting of the options/answers will not be given credit.
(iii) There is **no negative** marking. All MCQs must be attempted.

PART-I (MCQs)(COMPULSORY)

Q.1. (i) Select the best option/answer and fill in the appropriate Box ☐ on the **OMR Answer Sheet. (20x1=20)**
(ii) Answers given anywhere, other than OMR Answer Sheet, shall not be considered.

1 **د پښتو د تاریخ کتاب "اسرار الافاغنه" وړومبی انګریزي ترجمه چا کړی ده ۔**
(A) جیمز ډارمسټرټر (B) هنري ونسټارټ (C) اولف کېرو (D) پادري هیوز

2 **اپریدے پېرنګے او ماما پېرنګے به پښتو کوم مستشرق ته وئیلو۔**
(A) روس کیپل (B) بلوم هارټ (C) لیفټننټ لودے (D) پادري رابرټ کلارک

3 **د ظلم زیاتي او جبر اعتراف کولو او مظلوم نه د هغې معافي غوښتلو ته څۀ وائي ۔**
(A) جرګه (B) بدل (C) **ننواتي** (D) مېلمستیا

4 **د پښتو د توټو تورو (Alphabets) شمېره څومره ده ؟**
(A) 42 (B) 44 (C) 46 (D) 48

5 **د مراة العروس ناول پښتو ترجمه د نقش نګین په نوم په کوم کال کښې شوې ده ۔**
(A) 1871ء (B) 1875 ء (C) 1876ء (D) 1877ء

6 **شېرعالم او مېمونی د کوم ځای اوسېدونکي وو ۔**
(A) باجوړ (B)سوات (C) قندهار (D) پېښور

7 **په پښتو کښې د منظمې شاعرۍ ابتداء چا کړی ده ۔**
(A) اخون دروېزه (B)بایزید انصاري (C) امیر کرور (D) خوشحال خان

8 **حالنامه د چا تصنیف دے ؟**
(A) مرزا خان انصاري (B) اخون دروېزه (C) بایزید انصاري (D)شېخ عمر

9 **خوشحال خان خټک په کوم کتاب کښې د شلو هنرونو اوشلو خصلتونوذکر کړے دے ؟**
(A) اخلاق نامه (B) فرخ نامه (C) فراق نامه (D) دستار نامه

10 **د پښتو وړومبے اخبارکوم یو وۀ ؟**
(A)افغان (B) سراج الاخبار (C) دوران (D) وحدت

11 **اولسي ادبي جرګه کله جوړه شوې وه ۔**
(A) 1945ء (B) 1947ء (C) 1949ء (D) 1951ء

12 **ګډې وډې د چا د مزاحیه کالم نوم وۀ چې په پښتو مجله کښې په چاپ کېدو ۔**
(A) راحت زاخیلي (B) غني خان (C) همېش خلیل (D) اجمل خټک

13 **"پټه خزانه " نوم کتاب چا لیکلے دے ؟**
(A) محمد هوتک (B) شېخ بوستان بریخ (C) شېخ اخوند احمد (D) شېخ کټه مته زے

14 **کاظم خان شېدا د خوشحال خان خټک څۀ وو؟**
(A) زوے (B) نمسے (C) کروسے (D) تېکرے

15 **د پښتو ژبې مخصوص توري کوم دي ۔**
(A) څ ، ډ ، ړ ، ښ (B) ڼ ، ښ ، ږ ، ړ (C) چ ، ځ ، ږ ، ښ (D) څ ، ځ ، ږ ، ښ

16 **د شېخ سعدي "بوستان" نومي کتاب کومې پښتنې مېرمنې پښتو ته ترجمه کړے وۀ ؟**
(A) مېرمن رابعه (B) مېرمن زرغونه (C) مېرمن نېک بخته (D) مېرمن توتیا

17 **د پښتو اولنۍ افسانه"کنډه جینۍ" په کوم کال لیکلې شوې وه ۔**
(A) 1913ء (B) 1915ء (C) 1917ء (D) 1919ء

18 **" زما سفرنامه" د چا د سفرنامې نوم دے ۔**
(A) سیده منصفه بېګم (B) سیده بشرٰی بېګم (C) سیده آمنه بېګم (D) سیده قانته بېګم

19 **خوشحال خان خټک کله پیدا شوے وۀ ؟**
(A) 1611ء (B) 1613ء (C) 1615ء (D) 1617ء

20 **پټه کښې ټول څو سېلابه Syllebls وي ۔**
(A) شل (B) دوه ویشت (C) څلیریشت (D) پنځویشت

PART-II

NOTE: (i) **Part-II** is to be attempted on the separate **Answer Book.**
(ii) Attempt **ONLY FOUR** questions from **PART-II.** Answer must be written in **respective language** except where specified in the Question paper. **ALL** questions carry **EQUAL** marks.
(iii) All the parts (if any) of each Question must be attempted at one place instead of at different places.
(iv) Write Q. No. in the Answer Book in accordance with Q. No. in the Q.Paper.
(v) No Page/Space be left blank between the answers. All the blank pages of Answer Book must

27-C Block, New Muslim Town, Lahore | 0321-1114882, 0321-1114880

سوال نمبر 2: (a) د لاندینې وركړې شوې انګرېزي عبارت په معیاري پښتو کښې ترجمه اوکړئ ــ **(14)**

A Pashto poet who has great similarity with John Keats is Abdul Ghani Khan. Here we have a twentieth century eastern poet speaking a language that is completely alien to English and living in a culture and society that is so divergent to the English and yet Inspite of these regional differences Ghani Khan can be called the Pukhtoon John Keats. Both of these poets never compartmentalized knowledge into tidy pigeonholes of sciences and humanities. For them all knowledge was universal.Both of these poests have universalitly of appeal because theme and subject of their works is simple.

(b) وركړې شوی انګریزی متلونه کښې درې متلونه پښتو ته راواړوئ. **(06) (2 each)**

(i) Cut your coat according to your cloth.
(ii) A burnt child dreads the fire.
(iii) When the old cock crows the young cock learn.
(iv) Procrastination is the thief of time.
(v) He is not lost who comes at last.

سوال نمبر 3: (a) د لاندینې پښتو عبارت په معیاري انګرېزیکښې ترجمه اوکړئ ــ **(14)**

د روښانې تحریک سیاسي اثرات که هر څو د زور د کمي په وجه محدود وو او ډېر زر زائل شول ــ ولې په پښتنو کښې ئې یو مستقل قامي احساس راپیدا کړو ــ دغې قامي احساس د ثقافت د شېرازې په باب له ډېر څخه اوکړل ولې کوم ادبي تحریک چې له دغې احساسه زېږون اوموندو هغه د خپل نوعیت له رویه ډېر شکلے او عجیبه دے او د یورپ د نشاة ثانیه د تحریکونو نه هم په ډېرو خبرو کښې اعلیٰ او سپېڅلے دے ــ د روښانې ادبي تحریک میر ملا ارزاني په پښتو ادب کښې یو زبردست قامي شعور ورکړ کړو ــ مرزا خان انصاري د پښتو د احساس سره سره پکښې نوې علمي تجربې اوکړې ــ مخلص ، دولت او واصل او نورو روښاني شاعرانو پښتو ژبه د علم په مېدان کښې د هغه وخت د ترقي یافته ژبو د مقابلې دپاره په پښو اودرولې ــ چې وروستو تر خوشحال خان خټک ملي شعور واخست ــ رحمان بابا تر تصوف ، حمید او نورو تر فني جواهرات پوره کړل ــ

(b) د پښتو د لاندینی متلونه نه د درېو متلونو په انګرېزی کښې ترجمه اوکړئ ــ **(06) (2 each)**

(i) سنډا ته سرینده وهل ــ **(ii)** چې رښتیا راځي دروغو کلي وران کړي ــ
(iii) چې په ګوره مري زهرو ته ئې **(iv)** چې خروي نصیب ئې غروي ــ څۀ حاجت دے ــ
(v) عقل د کم عقل نه زده کېږي ــ

سوال نمبر 4: خوشحال بابا د تورې او قلم شاعر وۀ د مثالونو سره ئې واضحه کړئ؟ **(20)**

سوال نمبر 5: د غني خان دشاعرۍ په مختلف اړخونو باندې لیک اوکړئ ؟ **(20)**

سوال نمبر 6: ټپه د پښتني نفسیاتو هینداره ده ــ د مثالونو په مدد مفصل بحث اوکړئ ؟ **(20)**

سوال نمبر 7: د حمزه باباشاعري د پښتني اقدارو عکاسي کوي بحث پرې اوکړئ ؟ **(20)**

سوال نمبر 8: پښتو ژبې او کلتور ته په راپېښو مسئلو مضمون اولیکئ ؟ **(20)**

****

CEPI — E LEARNING —